مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۲/۰۱/۲۰

# د مینې او پخلاینې بابا!




نن د سولې، مینې او بیدارۍ د بابا (خان عبدالغفار خان) څلور دیرشم تلین دی. د یو داسې پټمن انسان د مبارزې یادونه او لمانځنه ده چې خپله خاني، هستي، عیش او عشرت یې د یو پاشلي او ناغیره قوم د شعوري بیدارۍ په خاطر، د تاواني سودا په تله کې کېښود. له جابر پیرنګي سره د مقابلې له امله یې کمربند وتړلو او د (حق ورکول کیږي نه، اخیستل کیږي) شعار یې پورته کړ. د خامتا او بېستۍ جامې یې په غاړه کړې او د ګوابنونو له خطره بې پروا، په خپل هدف پسې لیونی سپیلنی وګرځېد. پیرنګي ترې ویره محسوسه کړه او د ۳۷ کالو لپاره یې د زندان د تورو تمبو ترشا په پنجرو کې ولچک کړ. خو هغه د حق او خود ارادیت له غږ څخه توبه ګار نه شو؛ په هر فرصت کې یې د خپل قام د تربیې هڅه وکړه؛ ولس یې د علم رڼا ته را وبللو او له جنګ او تشدد څخه یې د کرکې چل ورزده کړ.

ما ته خپل ځان بختور ښکاري؛ د ابتدائیه ښوونځي په دریم ټولګي کې ووم چې دغه ستر انسان، کونړ کې د نرنګ لیسې ته راغی. د نورو کمکیو شاګردانو په کتار کې زه هم ولاړ ووم چې د سولې دغه علمبردار او سرلارې مشر ته مې د ژیړو نرګسو غنچه ورکړه. زما په سر یې لاس کش کړ او شاباش یې راته وویلو. بیا مې په تنکۍ ځوانۍ کې د هجرت په مهال د پېښور په ګینټه ګهر کې په داسې حال کې له لیرې ولید چې هغه یې په کیجاوه کې راوړ او د غونډې ټول خلک ورته په ګډا شول. دغه مهال، مونږ ته په غوږونو کې دا ټپه ویل کېده چې غفار خان خو د روسانو یار دی، هغه غدار دار دی او ځای یې دار دی.

خو اوس په سپینې ږیرې د دغه بابا د داعیې او مبارزې په قدر پوهیږم چې هغه څومره منلی او ویاړلې انسان وو. په کابل کې د هستوګنې په مهال؛ د هغه یاور چې زما نژدې دوست دی؛ تیر کال په همدې شپو ورځو کې ما ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

وويل: «په خان بابا باندې د پنځه وخته لمانځه قضايي نه وه، هره ورځ به يې د قرانکريم تلاوت کولو او ټول خوراک يې بی بورې شيدې او سلاته وه. هيڅکله يې ما ته په آمرانه لهجه خبره نه کوله. کله به چې د هغه لپاره ځانګړي خواږه راغلل، نو د حويلی د باډيګارډانو مخ ته به يې کښودل او بيا به روان به شو.»

د سيف الله خان اتمانزي لمسی او د بهرام خان زوی «خان عبدالغفار خان» د ۱۸۹۰م کال د فبرورۍ په شپږمې نيټې زيږيدلی؛ د ۱۹۸۸م کال د جنورۍ په شلم تاريخ وفات او په جلال آباد کې خاورو ته سپارل شويدی.
په قبر يې د رڼا ګانو باران. اروا يې ښاده او لار يې له لاره وو ډکه.
مينه او مننه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ